Preview (1 / 10) - ketabton.com

# خوشي سنګري دريمه برخه (سلطان) ناول دوهمه برخه

## د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: سلطان ناول دوهمه برخه

ليکوال: محمدنواب ودان (احمدزی)

کال: ۱٤۰۵

چاپ شمېر: یوازې په آنلاین ډول خپور شوی ده.

Preview (2 / 10) - ketabton.com

# خوشي سنګري دريمه برخه (سلطان) ناول دوهمه برخه

لکه څنګه چې پوهېږئ په اوس حالاتو کې اعتراض په مکمله توګه بند ده، نو په اوسني حالت کې اعتراض خو لا څه کوې چې د دولت په وړاندې تخیل هم یو جرم ده.

بس همدې حالت دې ته اړ کړم څو دا ناول که څه هم خپروم خو یوه لوړه بیه به پرې کېږدم څو خلک یې ډانلوډ نه کړي او دا هم وي چې وروسته بیا څوک ونه وایي ودان ناول هغه وخت (مطلب اوس) لیکلی وؤ نو ثبوت یې باید وي.

نو د همدې لپاره له هغو کسانو چې کېدای شي دا ناول په همدې لوړه بیه وپلوري هیله کوم دا ناول مه خپروئ.

والسلام

Preview (3 / 10) - ketabton.com



په درانه خوب ويده وم چې صفيې غږ راباندې وکړ:

کوم هيواد چې ستا په شان دفاع وزير لري، هغه چې تر غرمې ويده وي، هغه به ډېر وخت آزاد پاتې نه شي.

له خوبه په ډک غږ مې ورته وويل:

پرې مې ږده ظالمې! د کوم هيواد چې پادشاه ويده وي، نو د دفاع وزير خو به يې خود ويده وي.

خو صفيې په مينه وويل:

پاڅېږه زړګيه! رڼا زنګ وهلی وؤ او ويل يې چې د سهارني لپاره مورې هلته مېمله يو.

په دې خبرې يې بې واره راپورته شولم او په بېړه مې مخ او لاس ته اوبه واچولې، جامې مې بدلې کړې او بيا مې صفيې ته وويل:

هې خورې! ماته د سهار تر لمانځه وروسته دا خوب ډېر خوند راکوي، خو نه پوهېږم، ستا ولې په ما نه لوريږي.

بې له دې چې څه ووايي په خپل ځان يې ګوتې وهلې او چې سينګار يې پای ته ورسېده، نو دواړه د يوې سرتېرې په لارښوونې د سلطان په لوري ورغلو او هلته مې سلطان بلکل د خوب په شان وليده، خو يوه شي خورا حيران کړم او هغه د رڼا خوشحالي او رفتار وؤ له سلطان سره، داسې نه ښکارېدل چې سلطان دې يې نوی پېژندلی وي، بلکې داسې ښکارېدل لکه کلونه چې يو بل پېژني.

په هر صورت سلطان سره د سهارني لپاره د خوړو خونې ته لاړو، هلته يې هګۍ په پيازو کې پخ کړې وې او شودې يې تودې کړې وې، نو د خوړو پر وخت مې له سلطان نه وپوښتل:

سلطانه! مورې ته څوک بودجه راکوي؟

Preview (4 / 10) - ketabton.com

# خوشې سنګرې دریمه برخه (سلطان) ناول دوهمه برخه

سلطان غوښتل لنډه خندا وکړي، خو مړی یې په ستوني کې ونښته او ټوخي ونیوه، نو رڼا ور پورته شوه او په مُلا یې یو څو کلک کلک سوکان ورکړل، بیا کله چې له ټوخي خلاص شو نو رڼا ته یې په ټوکه وویل:

شیشکې! ما نو کله په تا وار کړي چې ته یې په ما کوې.

رڼا هم لنډه خندا وکړه او بخښنه یې وغوښته، تر هغه وروسته سلطان زما په ځواب وویل:

مورې ته خدای تعالیٰ امکانات راکړي دي چې له ځینو هیوادو څخه ډېر اوږدمهاله پورونه واخلو.

په بېړه مې وویل:

خو دا کار د هیواد په زیان ده، بل پورونه خو له سود سره وي او سود حرام ده.

سلطان په موسکا وویل:

څوک خبر ده کېدای شي نه پور ورکړو او نه سود ، خو ته باید شمالي کوریا ته ولاړ شې، ځکه هلته باید هم زمونږ د انجینرانو احوال واخلې او هم به وګورې چې زمونږ جېټونه چمتو دي او که نه؟

هغه ته خو مې سمه ده وویل، خو زه د سلطان او رڼا اړیکې ته حیران وم، بل دې ته چې د رڼا مشر ورور رڼا ته کلونه وړاندې په شیشکې ویل او اوس څنګه په یوه شپه دومره سره خواږه شول او چې هوایي ډګر ته راتلو نو په لاره صفیې وپوښتل:

د دوئ چلند حیرانوؤنکی نه ده؟ آخر مورې په مینه واده کړی او د دوئ واده تا جوړ کړی، خو دوئ تر مورې ډېر نږدې دي.

ومې ویل:

زه هم همدې ته حیران یم، خو څنګه به پرې پوه شو؟

صفیې وویل:

Preview (5 / 10) - ketabton.com



چې کله بېرته راشو، معلومه به يې کړم.

*****

شمالي کوريا ډېره ښکلې وه، خو نه پوهېږم ولې ډېر زړه تنګی ځای وؤ، دومره چې پوښتنه يې مه کوه، چې څنګه په هوايي ډګر کې کښته شولو نو صفيې وويل:

ولې دا خلک داسې د زړه سترې ښکاري، داسې لکه سرونه يې چې د تبرګي لاندې وي، ته وګوره داسې راګوري لکه په عمر يې چې بهرنی کس نه وي ليدلی.

په موسکا مې ورته وويل:

خو همداسې ده تا ښه صفت ورته بيان کړ.

له دې خبرې سره سرتېرو ته ورسېدو، نو يوه سرتېري وويل:

کوريا ته ښه راغلاست.

مننه مې ترې وکړه او بيا يې موټر ته لارښــوؤنه راته وکړه، چې موټر ته پورته شــولو، نو تر هوټله چوپتيا خوره وه، په هوټل کې مو دمه وکړه، بيا د دفاع وزير راغی لومړی يې ښــه راغلاســت راته ووايه او بيا يې وويل:

معظم مشر په تمه ده څو تاسو وګوري، ځکه خو يې زه رواليږلم.

نو چمتوالی مو ونيوه او ورسره رهي شولو، په لاره کې مې وليدل چې د دفاع وزير په شتون کې په سرتېرو کې ساه هم نه چلېږي.

په هر صورت اولسمشري ماڼۍ ته ورسېدو، هغه ډېر ښکلی ځای وؤ، يوه جالبه کيسه هم پکې وه او هغه دا چې په اولســمشــرۍ ماڼي کې غربي ډيکورېشــن خورا ډېر برېښــېده تر نورې ټولې کوريا مطلب شمالي کوريا، تر څه ځنډ وروسته د کېم جونګ اون مخې ته ودرېدو، نو ما کېم سره روغبړ وکړ او صفيې د هغه له لور سره، لور يې ډېره هوښياره نه ښکارېده، خو ذهن يې له ډېرو پوښتنو او

Preview (6 / 10) - ketabton.com

# خوشي سنګري دريمه برخه (سلطان) ناول دوهمه برخه

لېوالتيا نه ډک وؤ. لومړی مې کلک روغبړ وکړ او بيا مې د سلطان له لوري لېږل شوي وچې او تازه مېوې ډالۍ کړې. تر هغه وروسته مې د سلطان پيغام هم ورته ووايه. نو تر کېناستو وروسته يې وويل:

مور، هغه هرڅه چمتو کړي دي چې تاسو يې غوښتنه کړې وه، که دې دمه کړې وي ليدو ته يې ورشو.

ما هم غوښتل چې دنده مې ژر تر ژره پای ته ورسېږي او له دې هيواد څخه ووځم، ځکه په دې لږه موده کې مې زړه تنګ شوی وؤ.

بس هغه وؤ چې په ګډه سره روان شولو، لومړی يې قاره ويشتونکي توغندي راوښودل او ويې ويل چې تاسو (۲۰) زره فرمايش راکړی وؤ، چې هر کله وغواړئ ورلای يې شئ.

بيا مو د اوږده واټن ويشتونکو نندارتون په لوري حرکت وکړ، په لاره د کېم لور وپوښتل:

ستا مېرمن په کوريايي ژبه نه پوهېږي، که څنګه؟

ومې ويل:

هو! زما مېرمن په بهرنيو ژبو نه پوهېږي، که څه هم د ملګرو هيوادونو ژبه وي.

کېم او لور يې لنډه موسکا وکړه، نو ما کېم ته وويل:

مور، تمه لرو چې په لنډه موده کې تاسو ته پاتې پيسې وسپارو او تر هغه وروسته توغندي او جېټونه تسليم شو.

راته يې کړل:

مور، خو چمتو يو، خو تاسو تر اوسه هر څه نه دي ليدلي.

ومې ويل:

Preview (7 / 10) - ketabton.com

# خوشې سنګري دريمه برخه (سلطان) ناول دوهمه برخه

که چېرې مو ستاسو جېتونه او توغندي خوښ نه وای، نو له سره مو قرارداد نه کاوه، خوښ مو دي چې قرارداد مو کړی ده.

په هر صورت کېم جونګ اون تول توغندي او جېټونه راوښودل او دا چې په ټولو يې د افغانستان لوګو او توغ رسم کړي ول، تر هغه وروسته کېم خپلې ماڼۍ ته لاړ او موږ له دفاع وزير سره خپلو زده کړيالانو ته ورغلو، په لاره مې دا سوچ کاوه چې ولې کېم د ټولو راکټونو ننداړتون يو ځای نه جوړوي او هغه وخت چې زده کړيالانو ته ورسېدو ايله پوه شوم چې ولې.

زما لا يوه شپه په دې هيواد کې نه وه تېره شوې زړه مې تنګ وؤ، زده کړيالانو خو دا دی نږدې کال پوره کېده، نو چې زده کړيالان مې وليدل پوه شوم چې هو زړونه خو يې ډک دي، خو زما په شان نه، ځکه دوئ بيا يو څه له حالاتو او شرايطو سره خوی اخيستی وؤ، يوې ډلې خپله هم ويل او ښوؤنکو يې هم چې راتلونکې مياشت يې زده کړې پای ته رسېږي. د دوه نورو ډلو بيا دوه او درې مياشتې پاتې وې، نو ما ژمنه ورسره وکړه چې زه به الوتکې يو ساعت هم نه ځنډوم، دوئ زما په ليدو او ژمنه خوښ شول، نو له دوئ سره مو ډوډۍ وخوړله او بيا مو د هوايي ډګر پر لوري حرکت وکړ.

په هوايي ډګر کې د دفاع وزير دوه بيکونه ماته راکړل او دوه يې هم سلطان ته په دې وخت کې يوه نجلۍ چې کوچاني جامې يې اغوستې وې د کېم له موټر نه راکښته شوه او زموږ پر لوري راغله، نو ويوهېدم چې لور يې ده، چې نږدې راغله په موسکا يې وويل:

راغلم چې تا په خير رخصت کړم، يوه خبره دا هم وه چې د سلطان له لوري رالېږل شوې دا جامې مې ډېرې خوښې شوې او د منني لپاره مې د هغه مېرمنې لپاره يوه کوچنۍ کڅوړه جوړه کړې د ډالۍ په توګه ورلېږم، همدا رنګه ستا، ستا د مېرمنې او سلطان لپاره.

ما هم خدای په اماني ورسره وکړه او بيا موږ دواړه الوتکې ته وختلو.

*****

Preview (8 / 10) - ketabton.com

# خوشې سنګري دريمه برخه (سلطان) ناول دوهمه برخه

په الوتکه کې صفيې زما پر اوږه سر کېښوده او چې څنګه الوتکه له ځمکې نه پورته شوله نو په مينه يې وويل:

ښه سو چې له دې ځای څخه ووتلو، دا ځای ډېر زړه تنګی ځای وؤ، هېڅ مې خوښ نه شو.

په ټوکه مې وويل:

خو دې ځای ډېرې ښکلې منظرې لرلې، ښه ښونه يې لرل، دا سې ماڼۍ چې د نړۍ په يوه ځای کې هم نه شته.

صفيې سر زما له اوږې پورته کړ او بيا يې په ځير راوکتل او ويې ويل:

خو داسې وؤ لکه زندان او خلک يې داسې ول لکه بنديان.

په موسکا مې وويل:

دا خبره خو ريښتيا ده، ماته يې هم خوند رانه کړ، آن په زده کړيالانو مې زړه وخوږېدېده، خو هرڅه چې وي دوئ سره د اتحاد غوښتونکي يو.

صفيې راته په موسکا وويل:

سمه ده! سمه ده، خو بيا زه درسره نه راځم.

په ټوکه مې وويل:

نو بيا به د کېم لور وغواړم، که يې راکړه هغه وخت به د دې تشويش نه لرم.

خندا يې وکړه او بيا يې وويل:

ښــه که يې هغه هر چا ته ورکولای، نو اوس به يې (٤٥٠) ماشــومان وای، خو اوس دا خبرې پرېږده او وو ايه چې دا کېم ولې موږ ســره په ننداره ووت، بل يې کولای شــول چې د ټولو توغنيد او جېټونو لپاره يو ننداړتون جوړ کړي، دي ته څه اړتيا وه چې هر يوه ته مو جلاجلا بوځي.

Preview (9 / 10) - ketabton.com



تر لنډ سوچ وروسته مې وویل:

په دې خو زه هم نه پوهېږم، خو فکر کوم چې ده ته بیا دا ډېر خوند ورکوي چې د خپل قدرت وسلې بیا بیا ووینې او نورو ته یې وښیي.

په هر صـــورت کابل ته ورســـېدو، چې څنګه د الوتکې وږېرانیســـتل شـــو ومې لیدل چې د دفاع وزارت موټړونه ولاړ دي، نو د ارګ په لوري مو حرکت وکړ، هلته مې سلطان ته د سفر وضاحت وکړ او ډالۍ مې هم ورکړې، نو هغه په موسکا وویل:

ښه بیا خو یوې اونۍ کې ټول توغندي او توغوؤنکي رالېږدولای شو، ته اوس ورځه دمه وکړه، بیا به سبا خبرې سره کوؤ.

د سلطان له څنګ نه چې کورته ولاړم نو صفیې ته مې وویل:

ګرانې ته یو چای راواخله دواړه ښه ستړي شوي یو، زه به د کېم ډالۍ راواخلم.

صفیې په موسکا سمه ده وویل او چای پسې ولاړه او چې کله بېرته راستنه شوه، ما بیکونه راوړي ول چې خلاص مې کړل یو ډول جامې زما لپاره او یوه جوړه هم د صفیې لپاره، یو څه ناڅرګنده مېوه او یو څه د آرایش توکي ول، نو صفیې وویل:

اوهو تا ولې دا شیان راواخیستل، زما یې هیواد خوښ نه شو او ته یې بیا ډالۍ را اخلې؟

په موسکا مې ورته وویل:

آه! ګرانې چې زه او ته نن شپه دا جامې واغوندو او دا مېوه هم وخورو، بیا به خوند وکړي.

په ناز یې وویل:

خو زه بیا داسې نیت نه لرم!

نو ما په ټوکه ورته وویل:

Preview (10 / 10) - ketabton.com



نو دې کې بیا څه خبره ده، خو نیت وکړه.

ویې ویل:

زه چې ته دومره شله یې نو وابه یې غوندم!

دا تشناب ته ننوته چې جامې بدلې کړي او زه بیا دې ته سوچ یوړم چې دا دومره ستر کارونه څنګه داسې ژر وشول، راتلونکې یوه اونۍ کې به له خیره د هغو توغندیو څښتنان یو چې د آمریکا ویشتل به هم ممکن کړي، درې نیم لکه پوځیانې، څلورلکه پوځیان دا ټول سلطان له کومه کړل؟ خو په دې کې صفیه راووته، نه پوهېږم چې په سترګو یې څه کړي ول چې د چینایي فلمونو نجونو په شان ښکارېده، خو دا جامې او دا حالت یې په ما ډېر ښه ولګېده، هغې چې زما نظر ولید په موسکا یې وویل:

زه څنګه ښکارم؟

ښه نه ښکارې، ورشه ببرته یې بدلې کړه، بل د کوریا خلک دومره لوړه پوزه نه لري.

یوه شوه چې ټوکې کوم، نو په موسکا یې وویل:

دورغ مه وایه! زه ډېره ښکلې ښکارم، اوس ډېر مه راته ګوره، داسې نه وي په سترګو مې وخورې.

زړه مې وؤ چې لږ یې وخورم، نو د کړکۍ لوري ته ورغلم، هلته مې ولیدل چې رښا له سلطان سره ناسته ده، په دوه کسیزه څوکۍ کې یې د سلطان پر اوږه سر ایښی ده او د ونو له سیوري او تازه هوا نه خوند اخلي، په همدې وخت کې رایاد شول چې ما خو دوربین او لیزر اخیستي ول.

نه یاره! هغه دوربین او لیزر چې تاسو یې فکر کوئ نه ښیم، ما ساده دوربین او د غږ اخیستونکي جاسوسي لیزر اخیستي وؤ، نو ژر لاړم او را وامې خیستل او دوئ ته غوږ شوم، چې په دې کې سلطان وویل:

*PREVIEW*

# You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

**Buy this book - ketabton.com**

https://ketabton.com/books/DHjOGTAmbMQ

Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.